


**دکندهار والي پوهاند توريالی ويسا**

## دکندهاروالي پوهاند توريالي ويسا وينا

د افغانستان ډېرو نومياليو اکاډيميکو شخصيتونو، دانشمندانو، پوهانو، ليکوالانو، شاعرانو او محققينو!

زما سلامونه، نېکي هيلي او احترامات ومنئ.

تر ټولو دمخه تاريخي کندهار ته ستاسي راتګ پر نېک فال نيسم، په کندهار کي ستاسو پوهانو حضور لوی افتخار بولم، ستاسي دغه تاريخي سفر به زموږ آينده تاريخونه په خورا ښه توګه ضبط او درج کړي او کندهاريان ستاسي په راتګ دا ګړی په کالو کي نه ځايېږي. تاسي دي همېشه خدای راولي، موږ مو په خدمت کولو وياړو.

څرنګه چي (د څلوېښتو کالو له تاريخي پېښو څخه زدکړه) درې ورځنی علمي او تحقيقاتي سيمينار د افغانستان مختلف مسايل په بر کي نيسي او پر مختلفو موضوعاتو تاسو ښاغلو پوهانو تحقيقات کړی دئ، چي د دغو درو ورځو په جريان کي به مطرح سي، دا کار په واقعيت سره مفيد او له تاثيراتو ډک دئ. زه په دغه ارتباط کومه خاصه مقاله نه

لرم، بلکي تاسي ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ یو څو موضوعاتو ته، چي د سیمینار له روحیې سره به سر وخوري اشاره کوم:

زه به خپلي خبري د اولنو له دغي تاریخي وراشې څخه را پیل کړم، چي: (کور که مي وسو، خو دېوالونه ئې پاخه سول). افغانانو که د زیات وکم څلوېښتو کلونو په اوږدو کي راز - راز مصائب او مشکلات ولیدل، مګر یوه ګټه ئې وکړه، چي عملي تجارب ئې په لاس راوړل، د ښه او بد په توپیر وپوهېدل، دوست او دښمن ئې وپېژندی او د وطن له پېښو څخه ئې عملاً ډېر څه زده کړل. که څه هم تر جنګو او انقلابو دمخه بعضي افغانان د ځینو فکري نهضتونو د لړاو ډېر فعالیت په برکت د ویښتیا او روښانتیا تر پړاوونو رسېدلي وه، مګر تېرو څلوېښتو کلونو د شعور او منطق خاوندان نور هم ویښ او روښانه کړل، نور ئې هم د ژوند په عملي ګړه کي پاخه کړل، نور ئې هم د زمان د جبر په ګردابونو کي له توفان او څپو سره د مقابلې کولو چلونه ور زده کړل او نور ئې هم د دنیا د استعماري سیاست په باریکیو وپوهول، مګر د دې تر څنګ هغه افغانان چي عامه اذهان ئې د ملي منافعو او مصالحو په چوکاټ کي روښانه سوي نه وه، د تاریکۍ او ظلمت داسي کندهل ته ورټېل وهل سول، چي په را وتلو کي ئې هم ځان تباه کړ او هم وطن.

زموږ په اکثرو سیاسي مباحثو کي دا خبره مطرح کېږي، چي د افغانستان د خرابۍ عاملین خارجیان دي او که خپله افغانان. دا خبره د راز - راز سیاسي او فکري تمایلاتو پر اساس پر یوه او بل ورتاوانېږي، مګر زه شخصاً د وطن د خرابۍ عوامل په دواړو طرفینو کي په خپله - خپله اندازه وینم. په دې کي شک نسته، چي په وطن کي دننه د وخت حاکمو نظامونو او نورو سیاسي ډلو د مملکت په ورانۍ او تباهۍ کي سهم درلودلی دئ او د مختلفو علایقو پر بنا ئې دا وطن په کنډواله بدل کړی دئ، مګر په دغه ترڅ کي د جهانیانو استعماري موقف او استثماري سیاسي حرکات د دې سبب سوي دي، چي د وطن زخمونه په ناسور بدل سوي او دغي خطرناکي ناروغۍ ئې هري خوا ته تکثر کړی دئ.

په کومو مواردو کي چي خارجي هیوادونو د ښکاره تجاوز تر عنوان لاندي نه، بلکي له افغانستان سره د کومک په خاطر او په ملک کي د آرامۍ او ډیموکراسۍ د ایجاد او ثبات په خاطر مداخله کړې ده، بیا هم د

دوی انتخاب درست او صحیح نه دئ پاته سوی. له ډېره بده مرغه د وطن په مختلفو نقاطو کي همدغو خارجي هیوادونو هغه کسان حمایه کړي دي، چي هغوی د قانون په ماتولو کي تر هر چا تکړه وه، د فجایعو او نارواوو په ترسره کولو کي تر هر چا مخکي وه، د قتلونو او جنایتونو په کولو کي ئې له بل هر چا څخه میدان وړی وو او د ملت په ځورولو کي تر ټولو غښتلي وه. د دې تر څنګ همدغو ممالکو د مشاورینو او سلاکارانو تر سرلیک لاندي ځیني داسي خارجي اتباع وطن ته را وستل، چي پر ځای د دې چي زموږ حکومتونو ته په مختلفو چارو کي مشوره ورکړي او د افغان وطن د زخمونو تشخیص او تداوي وکړي، یوازي پر جاسوسۍ اکتفا وکړه. دوی دا تاریخي وطن پر اقوامو او قبایلو ووېشی، دا ملک ئې پر زر ډوله نظریو او آیډیالوژیو تقسیم کړ او افغانان ئې یو د بل سره په غاړو کي واچول. که په رښتیا سره دغو خارجي ممالکو له افغانستان سره همدردي درلوداى نو په دغه ځای کي به د دوی عاطفي حرکت او زړه سواندې روحیه دا وای، چي د دغو مجهول الحاله جاسوسانو پر ځای ئې په نوره دنیا کي زموږ خپل افغاني علمي کدرونه راته را لېږلي وای، څو له منطقې سره د شناخت او په ټولو اجتماعي او وطني نزاکتونو او باریکیو باندي د پوهېدو په صورت کي د هغو له علمي توانه څخه استفاده سوې وای.

په همدې ترتیب په وطن کي د فرهنګي او علمي نهادونو له منځه تلل، د تاریخي آثارو لوټ او تالان، د علمي مراکزو تباه کېدل، د ښوونځیو او اکاډیمیکو مرکزونو سوځېدل، د عام المنفعه تاسیساتو له منځه وړل، د اجتماعي بنسټونو ویجاړېدل هغه څه دي، چي د فاعلینو حکم ئې هم پر خارجیانو کېدای سي او هم پر داخلیانو. که د مکتب په سوځلو کي خاشه د افغان په لاس کي وه، خو تېل خارجي ورته برابر کړي دي، که د پله او سړک ورانولو ته افغان کښېنستلی دئ، خو څټک او تېشه له خارجه ورته مهیا سوي دي، که د اکاډیمۍ په قلمي نسخو د افغان جنګېدونکې بخارۍ ګرمه سوې ده، خو روحیه له خارجه ورته پېچکاري سوې ده، که د بې اسرې او بېګناه افغانانو په سر کي مېخونه ټکوهل سوي دي، خو د (کمانډ) عملیه له دباندي ورباندي اجرا سوې ده، که د مستوري افغانۍ سینې په چاړه پرې سوي دي، خو هغې چړې ته له خارجه لاستی ور اچول

سوی دئ، که معلم د خلقي او پرچمي په نامه وژل سوی دئ، خو فتوا له دباندي ورته راغلې ده، که عالم او روحاني د اخواني او مرتجع په نامه ټکول سوی، خو د (یاغي) مُهر له خارجه ورباندي لګېدلی دئ، که د بېګناه انسانانو د قتل عامونو بازار جوړ سوی دئ، خو د دغه بازار د لا رونق په خاطر له خارجه جار پکښې وهل سوی دئ او بالآخره په جنګ کي د ښکېلو افغاني کړیو د تاریک ذهنیت او پوچي عقیدې په صورت کي د قضیې دخیل خارجي اړخونه هم له پامه نه سي غورځول کېدلای. خو د دې په څنګ کي د ځینو خارجي ممالکو صادقانه همکاري او دوستي هم د هېرېدلو نه ده، چي په مختلفو عرصو کي ئې له افغانستان او افغانانو سره کړې ده، په ځانګړې توګه د وروستیو دوولسو کلونو په اوږدو کي د بین المللي جامعې ځیني کومکونه د دې سبب سوي دي، چي افغانستان تر یوه حده پر خپلو پښو ودرېږي.

ډېرو محترمو پوهانو او د سیمینار برخوالو!

په افغانستان کي د څلوېښتو کلونو وقایع او مشاکل هغه څه دي، چي د هغو بیانول به د دغه درې ورځني علمي سیمینار په ترڅ کي مطرح سي، خو زه د تېرو څلوېښتو کالو څخه په تجربه یو څو وړاندیزونه لرم، چي په مختصر شکل به ئې ستاسي حضور ته عرض کړم:

۱. په افغانستان کي دي د ژوند په ټولو چارو کي د ښځو رول او ونډې ته خاصه توجه وسي، متاسفانه په تېرو څلوېښتو کلونو کي د بشر دغه عظیمه کتله له صحنې ایستل سوې او د اکثرو بدبختیو او ستونزو د زېږېدو عوامل هم همدغه د ښځي عدم حضور دئ. خصوصاً که موږ په مملکت کي یو بشپړ اجتماعي نظام او موازنه غواړو، نو د ښځو پر رول باید نهایت تاکید وسي. که مېرمني د ژوند په مختلفو ابعادو کي له نارینه وو سره اوږه پر اوږه سهیمي نه سي، ډېره مشکله به وي، چي موږ دي د دنیا له روان کاروان سره سیالي وکړای سو.

۲. هغه زاړي او ځوان علمي کدرونه، چي له هېواده دباندي اوسېږي، په کار ده، چي بیرته وطن ته راستانه سي او په مختلفو ادارو او مراکزو کي خپله علمي سرمایه خپره کړي. په دغه عرصه کي زه شخصاً هغو منورینو، پوهانو، او علمي کدرونو ته وړاندیز لرم، چي د تېرو څلوېښتو کالو په اوږدو کي ئې له وطنه هجرت کړی دئ، چي بیرته خپل ملک ته

راسي. عام افغانان کله ناکله له دغسي علمي شخصيتونو څخه ګيله من دي، چي ګواکي وطن ئې يوازي جنګسالارانو او قانون ماتوونکو ته پرېښووی او بيا ئې هيڅ پوښتنه ونه کړه. د دوی ګيله زه خپله هم تر يوه حده پر ځای بولم، خو دا چي اوس مو ئې ګيله ور رفع کړې وي، اميد دئ، چي په دغه برخه کي موږ ملتفت واوسو.

۳. دا چي اوس مو وطن کرار – کرار د جنګ له اوره څخه د راوتلو په حال کي دئ، نو زما ډېر ټينګار پر ځوان تعليم يافته قشر دئ، چي د هغو له انرژي څخه اعظمي استفاده وسي او وطن د دوی په مټو پر پښو ودروو.

درنو پوهانو او منورينو!

زه يقين لرم، چي د افغانستان د ځلوېښتو کلونو د تاريخي پېښو د څېړلو په ترڅ کي به د وروستيو څه د پاسه دوولسو کلونو هغه لاسته راوړنو او موفقيتونو ته هم اشاره وسي، چي په مختلفو ساحاتو کي افغانستان درلودلي دي. د دغو موفقيتونو او برياوو يادول به ډېر اوږد ليست جوړ سي، چي زه ډډه ځني کوم، خو دونه ويل غواړم، چي له امريکا سره د امنيتي تړون خبره د افغانستان له سياسي بقا او جهاني اعتبار سره تړاو لري، چي په دې باب دخيره سره په دې نږدې راتلونکي کي لويه جرګه هم جوړېږي او د افغان ولس نظر پکښي غوښتل کېږي. زه هيله لرم، چي وېښ افغانان به په دغه اړه خپل نېک نظريات وړاندي کړي.

زه د خپلو خبرو په پای کي تاسو ښاغلو ته د کندهار په باب دونه ويل غواړم، چي موږ په تېرو څو کلونو کي په مختلفو عرصو کي ډېر تغيرات راوستلي دي، خو هغه څه چي بايد سوي وای او نه دي سوي، د هغو يوازنی علت د امکاناتو نه موجوديت دئ. د امکاناتو قلت هم د روانې ځلوېښت کلني دورې د مشکلاتو يو پاته سونی ګڼل کېدای سي، زه هيله لرم، چي دغه مشکل به هم د افغانانو په يووالي او اتحاد او د ځينو خارجي دسيسو د پېژندني په صورت کي له منځه ولاړ سي.

په آخره کي يو وار بيا ستاسو تشريف راوړلو ته ښه راغلاست وايم، موږ مو همېشه په خدمت کي يو، دغه علمي سيمينار بالاعم د افغانستان او بالاخص د کندهار لپاره ډېر لوی وياړ او افتخار بولم، هيله ده چي په ترڅ کي ئې زموږ ځوانان ډېر څه ځني زده کړي.

د سیمینار له ټولو منتظمینو او مهتممینو څخه تشکر کوم، چې د دغه سیمینار د جوړېدو په لاره کې ئې زیار ګاللی دئ، په ځانګړې توګه د کندهار پوهنتون او د دغه پوهنتون د پاچاخان د علمي مرکز او نورو ټولو هغو دولتي او غیر دولتي موسساتو او ادارو دي هم کوروداني وي، چې په دغه عرصه کې ئې زحمت کښلی دئ.

په درنښت

دکندهار والي او د افغانستان د زراعتي علومو او ټکنالوژۍ د ملي پوهنتون رئیس پوهاند ډاکټر توریالی ویسا